# د اِیمان سلامتیا

30-January-2020



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د اِیمان سلامتیا

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه كله جُمات ته داخل شئ، چه ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چه جُمات كښې ئے نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښے د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' كښې دي: كه څوك جُمات كښے خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوكړي بيا چه څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

# د دُرُود شریف فضیلت

د حضرت اِبنِ وَهْب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه روایت دے چه حضرت کَعْب رَضِیَ اللهُ عَنْه د اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صدیقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کښے حاضر شو. خلقو د حُضُورِ انَور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تذکره اوکړه نو حضرتِ سَیِّدُنا کَعْب رَضِیَ اللهُ عَنْه اوفرمائیل: هره ورځ اویا زره فرښتے راکوزیږي او د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر مبارك نه راچاپیره کیږي او خپلے وزرے خورے کړي او په نبي پاك صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے دُرُود شریف لولي تر دے چه کله ماښام شي نو (آسمانونو طرف ته) اوخیژي او د هغوئي په شان (نورے فرښتے) راکوزے شي هغوئي هم هغه شان کوي تر دے چه زمکه بیرته کړے شي نو رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اویاؤ زرو فرښتو (په ګنړه) کښے را اوځي او هغوئي به خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د خپل ربِّ کریم بارګاه ته په ډیر شان و شوکت] رَسَوي.[1]

د دے حدیثِ پاك نه لاندے مُفَسِّرِ قرآن، حکیمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: یاد ساتئ چه همیشه ټولے فرښتے په حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے دُرُود شریف لولي خو دا اویا زره فرښتے هغه دي کومو ته چه په عمر کښے یو ځل [د خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښے] د حاضرئ اجازت وي، دا حضرات د نبی کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکت حاصلولو د پاره حاضریږي. کومه فرښته چه یو ځل حاضره شي هغے ته بیا د حاضرئ شرف نه حاصلیږي، په ټول عمر کښے ورته صرف یو څو ګینټے یعني نیمه ورځ حاضري نصیب کیږي. (د حدیثِ پاك د دے

[1] ... مشکاة، کتاب احوال القیامة وبدء الخلق، باب الکرامات، ۲/۴۰۱، حدیث: ۵۹۵۵

حصے ”تر دے چه زمکه بيرته شي نو حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اويا زره فرښتو [په ګنړه] کښے را اوځي او هغوئي به خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د خپل ربِّ کريم بارګاه ته] رَسَوي.“ په وضاحت کښے ليکي:) يعني قيامت کښے د هغه ورځے د ډيوټئ والا فرښتے به حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپله ګنړه کښے ربِّ کريم ته رَسوي د واده د ځلمي په شان.[1]

اعلٰی حضرت امامِ اهلسنت حضرت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په **حدائقِ بخشش** کښے دے خبرے داسے اشاره فرمائيلي ده:

ستّر ہزار صُبح ہیں سَتّر ہزار شام
یُوں بندگیِ زُلف و رُخ آٹھوں پہر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص۲۲۰)

په دربارِ نُبُوَّت کښے حاضريږي سحر ماښام
اويا زره فرښتے دا به دُرُود وائي مُدام

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”**نِیَّۃُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِہٖ**“ د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[2]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم

---

[1] ...مرآۃ المناجیح، ۸/۲۸۲تا ۲۸۳

[2] ....معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲

زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

۞ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بیان واورئ ۞ پوره تَوجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ۞ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده"**د اِیمان سلامتیا**".
په دے کښے به مونږه اورو په قرآن و حدیث کښے په ایمان باندے د ثابت قدم اوسیدلو څومره تاکید بیان شوے دے، یو مسلمان له د ایمان د سلامتیا د پاره څومره فکرمند اوسیدل پکار دي، زمونږه بُزُرګانِ دین به د ایمان د حفاظت څومره فکر کولو، د آخرت د نجات د پاره کوم تدبیرونه اختیارول پکار دي، د دے نه علاوه به بعضے داسے اُمور هم بیانیږي چه هغه د ایمان د بربادئ سبب جوړیدے شي وغیره وغیره. راځئ چه د ټولو نه مخکښے د الله پاك د هغه نیکو بندګانو قرآني واقعه واورو چا چه د خپل ایمان د حفاظت د پاره په یو غار کښے پناه اخستي وه.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اصحابِ کهف واقعه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! څو صدئ مخکښے (د بحیره عرب په غاړه د مُلكِ

رُوم) په زمکه ''**اُفسُوس**'' نومے ښار آباد وو دا ښار د ''**دَقْیَانُوس**'' بادشاه په حکومت کښے شامل وو. **دَقْیَانُوس** به پخپله هم د غیرِ خدا عبادت کولو او خلق به ئے هم په دے مجبورول، چا به چه انکار کولو نو په هغه به ئے ظُلم کولو او عبرتناکه سزا به ئے ورکوله. ایمان والا به د هغه د ظُلم نه بچ کیدلو د پاره پټ پټ ګرځیدل او خپل اِیمان به ئے ترینه ساتلو. د ایمان والؤ یوے عِزَّتمندے ډلے دا ویره لرله چه هسے نه مونږ یوه ورځ د **دَقْیَانُوس** په لاس ورشو او هغه مونږه د غیرِ خدا په عبادت کولو مجبوره کړي، د دے خطرے په وجه هغوئي د هغه ښار پریښودلو فیصله اوکړه او د هغه ځائے نه روان شو، په لاره کښے د هغوئي ملاقات یو شپونکي سره اوشو چه هغه هُم د خپل ایمان بچ کولو د پاره د ښار نه بَهَر وتلو د پاره روان وو، هغه سره یو سپے هم وو، هغه شپونکے او سپے هم دوئي سره شو. په لاره کښے موجود یو غار ئے خپل د اوسیدلو ځائے مقرر کړو او هلته د آرام د پاره څملاستل، په غار کښے څملاستلو نه پس هغوئي سره ډیر عجیبه واقعات پیښ شو: (1) هغوئي په غار کښے درے سوه او نهه (309) کاله اوده وو. درے سوه او نهه (309) کاله پس چه د اللّٰه پاك په حکم هغوئي رابیدار شولو، نو د هغوئي بدنونه هُم سلامت وو او د هغوئي جامے، پیسے تر دے چه سپے ئے هم سلامت وو. (2) هغوئي په غار کښے اوده وو خو چا به چه لیدل نو هغه ته به بیدار ښکاریدل. (3) د اللّٰه پاك په حکم به لمَر د راختلو په وخت کښے د غار ښي طرف ته کیدلو او د پریوتلو په وخت کښے به کڼ طرف ته کیدلو، دغسے هغه نیك بندګان د غار په ښکاره

حصه کښے د څملاستلو باوُجود د لمَر لګیدو نه محفوظه وو.

**دَقْیانُوس** ته چه کله دا خبر اورسیدو چه یو څو کسانو د غیرِخُدا د عبادت نه بچ کیدلو د پاره په غار کښے پټ شوي دي نو هغه حکم اوکړو چه د غار په خُله کښے یو دیوال اوکړئ چه هغوئي هیڅ کله هُم د غار نه نه شي راوتلے او په هغے کښے په ډیر تکلیف مړه شي. **دَقْیانُوس** چه چا ته د دیوال وهلو حکم کړے وو هغه نیك سړے وو، هغه فیصله خو نه شوه بدلولے خو په هغه غار کښے د پناه اخستونکو نومونه او نور تفصیل ئے په یوه تختۍ اولیکلو او هغه تختۍ ئے په صندوق کښے کیښودله او هغه صندوق ئے د دیوال په بنیاد کښے محفوظه کړو. بیا دا **اَصحابِ کَہْف** درے سوه نهه کاله پس د یو نیك پرهیزګار مومِن نیك بادشاه ''**بَیدروس**'' په دورِ حکومت کښے د الله پاك په حکم رابیدار شو.[1]

د **اَصحابِ کَہْف** واقعه په قرآنِ کریم کښے په پینځَلَسمه سیپاره، **سُورَۃُالْکَہْف** آیت نمبر **9** کښے څه داسے ده:

| | |
|---|---|
| اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَ الرَّقِیْمِ ۙ كَانُوْا مِنْ اٰیٰتِنَا عَجَبًا ﴿۹﴾ (پ۱۵، الکھف:۹) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا تا ته معلومه شوه چه د غر د غار او د ځنګل د غاړے والا زمونږه یوه عجیبه نښه وه. |

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1] ... تفسیر خازن، پ۱۵، الکهف، تحت الآیة:۱۸، ۳/ ۱۹۸ تا ۲۰۳ ملخصاً

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو واوریدل چه **اَصحابِ کَهُف** ته د خپل اِیمان د حفاظت څومره فِکر وو چه هغوئي د **دَقیانُوس** بادشاه له طرفه د غیرِ خدا د عبادت کولو دعوت په لته اووهلو او د هغه د ظُلم او جبر نه د بچ کیدلو او په اِیمان باندے د ثابت قدمه اوسیدلو د پاره غار ته ننوتل، هم دا وجه وه چه اللّٰه پاك په هغوئي کرم اوکړو، یعني د اللّٰه رحمت هغوئي ته متوجه شو، او د دریو صدو نه زیاته موده پورے د اللّٰه پاك په حفظ و امان کښے اوسیدل، د دومره زمانو تیریدلو باوجود په هغوئي هیڅ اثر نه وو شوے، د هغوئي په حق کښے لکه وخت چه اودریدلے وو، 309 کاله پس چه کله بیدار شو نو هم هغه شان ځلمي او ترو تازه وو او دغسے اللّٰه پاك هغوئي ته خپله عجیبه نښه وئیلي ده.

## د دے واقعے نه مونږ ته څه درس حاصل شو؟

**مُفَسِّرِ قرآن،** حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د **اَصحابِ کَهُف** د واقعے په باره کښے لیکي چه د دے واقعے نه مونږ ته دوه مسئلے معلومي شوے،

یوه دا چه کَرامتِ اولیاء برحق دے، **اَصحابِ کَهُف** د بَنِي اسرائیل اولیاء دي، د هغوئي د څه خوراك څښاك نه بغیر دومره موده ژوندي اوسیدل کَرامت دے.

بله دا چه د وَلِي کَرامت په اُودو هُم ظاهریدے شي، او د وفات نه پس هُم ظاهریدے شي.

د هغه اولیاء بدنونه د خاورو نه خوړل دا هُم کَرامَتِ اولیا دے. (نورالعرفان، ص۴۶۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## هيڅ ضمانت نشته....

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د الله پاك بيشميره احسانونه دي چه هغه مونږه د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اُمَّت كښے پيدا كړي يُو او د اسلام دولت ئے را كړے دے، په دے كښے هيڅ شك نشته چه دا زمونږه ډيره نيك بختي ده چه اَلْحَمْدُ لِلّٰه مونږه مسلمانان يُو خو ورسره ورسره دا هم ډيره د فكرمندئ خبره ده چه په مونږ كښے د هيڅ چا سره د دے خبرے ضمانت نشته چه د مرګه پورے به مسلمان اوسي، څنګه چه بيشميره كُفّار خوش قِسمتئ سره مسلمانان شي نو دغسے د ډيرو بدنصيبو مسلمانانو مَعَاذَالله د اسلام نه مُرتَد كيدل هم ثابت دي، چنانچه

## د اولادِ آدم طبقات

يو اوږد حديثِ پاك كښے زمونږ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا هم ارشاد فرمائيلي دي چه: اولادِ آدم په مختلفو طبقو كښے پيدا كړے شوي دي په دے كښے (1) بعضے مومِن پيدا شوي دي او په حالتِ ايمان ژوندي وي او مومِنان به مري، (2) بعضے كافِر پيدا شوي دي او په حالتِ كفر به ژوندي وي او كافِر به مري، (3) بعضے مومِن پيدا شوي دي او په حالتِ ايمان به ژوندي وي او په حالتِ كفر به مري، (4) بعضے كافِر

پیدا شوي دي او د کُفر په حالت ژوندي وي او مومِنان شوي به مري.[1]

## اصل کامیابي څه ده؟

معلومه شوه چه اصل کامیابي صرف په دُنیا کښے مومِن او مسلمان کیدل نه دي بلکه د دے سره سره د مرګ په وخت کښے ایمان سلامت وړل اصل کامیابي ده څنګه چه په یو بل حدیثِ پاك کښے دا خبره واضحه بیان شوي ده. چنانچه

فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: **یُبْعَثُ کُلُّ عَبْدٍ عَلٰی مَا مَاتَ عَلَیْہِ** [یعني] هر بنده به په هغه حالت را پاڅولے کیږي په کوم [حالت] چه مړ شي.[2]

**مُفَسِّرِ قرآن** حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دے حدیثِ پاك لاندے لیکي: اعتبار د خاتمے دے، که څوك په کفر مړ شو نو په کفر به راپاڅي اګر که په ژوند کښے مومِن وو، او که په اِیمان باندے مړ شو نو په اِیمان به راپاڅي اګر که ژوند ئے په کُفر کښے تیر کړے وو.[3]

## د ایمان د حفاظت د پاره څه کول پکار دي؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** مونږ له پکار دي چه ☆ د اِیمان نِعمت حاصلیدو باندے هر وخت د **اللّٰه** پاك شکر ادا کوو، ☆ ټول عُمر په ایمان باندے د

---

1. ... ترمذی، کتاب الفتن، باب ما اخبر النبی...الخ، ۴/۸۱، حدیث: ۲۱۹۸
2. ... مسلم، کتاب الجنة وصفة نعیمها واهلها، باب الامر بحسن الظن بالله تعالی...الخ، ص۱۱۷۸، حدیث: ۷۲۳۲
3. ... مرآة المناجیح، ۷/۱۵۳

ثابت قدمه اوسیدلو دُعاګانے کوو، ☆ د خپل اِیمان د حفاظت او مضبوطولو د پاره عِلمِ دین خاص طور د ایمانیاتو او کُفریاتو ضروري علم زده کړو، ☆ د خپل ایمان د حفاظت د پاره ژبه د قینچۍ په شان چلولو او بازاري انداز کښے د چلولو په ځائے دا د ذِکر و دُرود او صرف ضروري خبرو د پاره استعمالوو، ☆ خپل ایمان د کفر د ټولو خطراتو نه بچ ساتو، ☆ خپل ځان د ایمان ضائع کولو ټولو کارونو نه بچ ساتو، ☆ په خپل ایمان باندے د آخري وخته پورے ثابت قدم اوسیدلو د پاره د لمانځه او روژو او شریعت پابندي کوو، ☆ د ایمان استقامت د پاره د اللّٰه پاك او د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا والا کارونه کوو، ☆ د ایمان د استقامت د پاره د اللّٰه پاك او د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ناراضۍ او نافرمانۍ نه هر ساعت ځان ساتو. **اللّٰه** پاك په قرآنِ پاك کښے اِرشاد فرمائي:

**یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ(۱۰۲)**

(پ۴، آل عمران: ۱۰۲)

مفهوم ترجَمۂ کنز الایمان: اے ایمان والؤ د اللّٰه نه اویَریږۍ څنګه چه هغه نه د یَریدلو حق دے او په هیڅ شان مه مرۍ خو مسلمانان.

د دے آیتِ مبارکه نه لاندے په تفسیر نُوْرُالْعِرْفَان کښےدي چه: د دے نه معلومه شوه چه په اسلام باندے د خاتِمه کیدلو اعتبار دے. که ټول عُمر مومن وي او د مرګ په وخت کښے کافِر شي نو هغه د اصلي کافِر په شان شو.

د هُم دے مفهوم د یو بل آیتِ مبارکه نه لاندے مفتي صاحب لیکي: معلومه شوه چه مسلمان کیدل کمال نه دے بلکه مسلمان مړ کیدل کمال دے. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو

ته په ایمان باندے مرګ راکړي آمِین. (پ۱، البقرة، تحت الاية: ۱۳۲)

د الله پاك د آخري نبي، مکّي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دے: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ یعني **د اعمالو دارومدار په خاتمه دے.** (بخاری، کتاب القدر، باب العمل بالخواتم، ۴/۲۷۴، حدیث ۶۶۰۷)

**الله** پاك دِ مونږه د دُنیا نه د ایمان د سلامتیٔ سره اوچت کړي او زمونږه حشر دِ نیکو خلقو سره اوکړي. **اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

❁ د ایمان د حفاظت د پاره د بدو خلقو د صُحبت نه لرے اوسیدل پکار دي،❁ د ایمان د حفاظت د پاره عُلَمائے اَهلِسُنَّت او نیکو خلقو سره خپل تَعَلُّق جوړول پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره عِلمِ دِین زده کول پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره ګناهونو نه لرے اوسیدل پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره استقامت سره نیك کارونه کول پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره د کامِل ایمان والؤ د سیرت مطالعه کول پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره فضولو خبرو نه ډډه کول پکار دي، ❁ د ایمان د حفاظت د پاره د دِین په مُعامَله کښے احتیاط کول پکار دي،❁ د ایمان د حفاظت د پاره د هر هغه کار نه لرے اوسیدل پکار دي په کوم کار چه الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه کیږي.

## چرته د الله تعالیٰ د ناراضیٔ والا کار رانه اُو نه شي

د حضرت امام حسن بصری رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړے شو چه ستاسو څه حال دے؟ هغوئي اُوفرمائیل: د چا کشتیٔ چه د دریاب په مینځ کښے ماته شي، د کشتیٔ

تختے جُدا جُدا شي او هر کس په چپو وهونڪو تختو پورے نښتے ښکاري نو د هغوئي به څه حال وي؟ عرض اوکړے شو: بیحده پریشان به وي. هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ اُوفرمائیل: زما هُم دغه حال دے.

یو ځل په هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ داسے خفګان راغے چه د ډیرو کلونو پورے خندا نه ورتلله. خلقو به په داسے حالت کښے لیدلو لکه څوك چه یواځے ځائے کښے قید وي او د مرګ سزا ورته اوروله شوي وي. هغوئي نه د دے پریشانئ او خفګان د سبب تپوس اوکړے شو چه تاسو د دومره عبادتونو او ریاضتونو او مجاهداتو باوجود فکر مند ولے اوسیږئ؟ هغوئي اُوفرمائیل: ما سره هر وخت دا غم وي چه چرے زما نه داسے کار اونشي چه د هغے په وجه زما نه **اللّٰه** پاك ناراضه شي، او هغه جَلَّ شَانُهٗ دا اُوفرمائي چه ته څه کوے هغه کوه خو زما رحمت به تا باندے نه کیږي. بس په هُم دے وجه زما بدن وِیلي کیږي. (1)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر ځله مسلمانانو ته د اسلام په نُور کښے د اوسیدلو او د کفر نه همیشه د بیزاره اوسیدلو ترغیب ورکړے دے، چنانچه فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: درے عادتونه داسے دي چه دا په چا کښے وي هغه به د اِیمان خوږوالے حاصل کړي: (1) چا ته چه الله پاك او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نورو خلقو نه زیات محبوب

[1] ... کیمیائے سعادت، رکن چهارم: منجیات، فصل اسباب سوء خاتمت، ۲/ ۸۳۲

وي (2) څوك چه د كوم بنده سره مَحبَّت كوي او د هغه مَحبَّت صرف د الله پاك د پاره وي او (3) هغه څوك چه د **الله** پاك له طرفه هغه د كفر نه د ويستلو نه پس كفر ته بيرته تلل هُم داسے ناخوښه ګنړي څنګه چه په اور كښے غورزيدل ناخوښه ګنړي. (1)

## د جهَنَّم سختے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د كوم بدنصيبه چه په كفر خاتمه اوشي هغه به په عذابِ قبر كښے هُم اخته كيږي او ورسره ورسره به هميشه هميشه د پاره جَهنَّم ته هُم ځي او د جَهنَّم عذابونه ډير زيات سخت دي. صدرُ الشريعه مفتي محمد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جَهنَّم د عذابونو په باره كښے فرمائي: ☆ حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په قسم سره اُووئيل چه: كه جَهنَّم نه د ستنے د سُوري همره سُورے اوكړے شي نو د ټولے زمكے ټول [مخلوق] به د هغے د ګرمئ نه مړه شي، ☆ په قَسم سره ئې اووئيل چه: كه د جَهنَّم يوه داروغه (يعني په دوزخ باندے محافظه فرښته) دُنيا والؤ ته ظاهره شي نو د زمكے اوسيدونكي ټول به د هغه د ويرے نه مړه شي او ☆ په قَسم سره ئې عرض اوكړو چه: كه د دوزخيانو د زنځير يوه كړئ د دُنيا په غرونو كيښودے شي نو په رپيدو به شي او په خپل ځائے به ټِينګ نه شي تر دے چه لاندينئ زمكے [يعني تَحْتُ الثَّرٰى] پورے به خخ شي. ☆ دا د دُنيا اور [چه مونږه پرے پخلے كوو] د **الله** تعالٰى نه سوال كوي چه ما بيا جَهنَّم ته مه بوځے، خو حيرانتيا ده په انسان باندے چه جَهنَّم ته تللو والا كارونه كوي او د هغه اور نه هُم نه يَريږي د كوم نه چه اور هُم يَريږي او پناه ترينه غواړي. ☆ په جَهنَّم كښے مختلفے طَبقے كندے او كوهيان دي، بعضے كندے داسے دي چه د هغے نه جَهنَّم هم هره ورځ اويا ځله يا [د دے نه هُم]

---

1 … مسلم، كتاب الايمان، باب بيان خصال من اتصف...الخ، ص۴۷، حديث:۱۶۵

زيات [ځله] د هغے نه پناه غواړي، دا ښځپله د هغه ځائے حالت دے، که په دے کښے نور عذاب نه وے نو هُم دا څه کم نه وو! خو د کافرو د سزا د پاره نور ډير عذابونه تيار دي، ☆ د اوسپنے داسے درانه ګُرزونو باندے به ئے فرښتے وهي چه که يو ګُرز په زمکه کيښودے شي نو ټول انسانان او پيريان که راجمع شي نو اوچت به ئې نه کړي، ☆ کافر به د خپل ژوند نه بيزاره شي او خپل مينځ کښے به مشوره اوکړي او بيا به د جَهنَّم داروغه (يعني د جَهنَّم محافظے فرشتے) مالك عَلَيۡهِ‌السَّلام ته آواز اوکړي چه: اے مالِك (عَلَيۡهِ‌السَّلام)! ستا رب دِ [يعني خپل رب ته اُووايه چه] زمونږه قِصَّه ختمه کړي [يعني مونږ له مرګ راکړي]، مالك عَلَيۡهِ‌السَّلام به د زرو کالو پورے جواب نه ورکوي، زر کاله پس به اوفرمائي: ما ته څه وائے؟ هغه ته اووائے د چا مو چه نافرماني کړي ده! [بيا] د زرو کالو پورے به هغوئي الله تعالیٰ ته د هغه د رحمت په نومونو نعرے وهي، هغه به د زرو کالو پورے جواب نه ورکوي، د هغے نه پس چه فرمائي نو دا به اوفرمائي: لرے شئ! په جهنم کښے پراته اوسئ! زما سره خبرے مه کوئ! ☆ هغه وخت به کافر د هر خير نه نا اُميده شي او د خر د آواز په شان به په چغو چغو ژاړي، ☆ اول به ئے اوښکے بهيږي، ☆ چه اوښکے ئے ختمے شي نو د وينو ژړا به کوي [يعني د سترګو نه به ئے د اوښکو په ځائے وينے روانے شي ]، ☆ د ژړا په وجه به ئې د مخ په اننګو کښے د کندو په شان قوندړان جوړ شي، ☆ د ژړا په وجه به ترينه دومره وينے او نَوونه اوبهيږي چه که په هغے کښے کِشتئ واچولے شي نو پکښے روانے به شي. (اَلۡاَمَانَ وَ الۡحَفِيۡظ) . [1]

## د خپلوانو په شکل کښے په اِيمان ډاکه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو**! دُنيا ته په راتلو خو مونږه راغلو خو اوس د دُنيا

[1] ... بهارِ شريعت ، حصه :١، ١/١٦٥تا١٦٩ملتقطاً

نه ايمان سلامت وړلو د پاره د ډيرو سختو سره مخامخ کيدل دي او بيا هم معلومه نه ده چه خاتمه به مو څنګه وي! ياد ساتئ! د مرګ په وخت کښے د ايمان بربادولو د پاره شيطان قِسم قِسم طريقے استعمالوي تر دے چه هغه د مور و پلار او نورو خپلوانو په شکل کښے هم راځي او د بنده د ايمان بربادولو کوشش کوي، يقيناً دا داسے نازکه موقع وي چه بس په چا چه د الله پاك خاص کرم او احسان وي هغه کامياب او کامران شي او د هغه ايمان سلامت پاتے شي. څنګه چه

منقُول دي: چه کله د انسان ځنکدن وي نو دوه شيطانان راشي د هغه ښي او ګڅ طرف ته کښيني. ګڅ طرف والا شيطان د هغه د پلار شکل جوړ کړي او وائي: ځويه! اوګوره زه ستا مهربانه او شفيق پلار يم، زه تا ته نصيحت کووم چه ته د نَصارٰی [يعني عيسائيانو] مذهب اختيار کړه او په دے مړ شه ځکه چه دا د ټولو نه بهترين مذهب دے. د ګڅ طرف والا شيطان د مړ کيدونکي د مور په شکل کښے راشي او وائي: زما خوږه ځويه! ته ما په خپله خيټه کښے ساتلے وے، تا ته مے خپل پئ درکړي دي او په خپله غيږه کښے مے پاللے ئے، خوږه ځويه! زه درته نصيحت کووم چه يهودي مذهب اختيار کړه او په دے مړ شه ځکه چه دا د ټولو نه اعلٰی مذهب دے. (التَّذکِرَۃُالْقُرطُبِی ص دار الکتب العلمیة بیروت)

## په ايمان مرګ راشي نو نن او اوس دِ راشي!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** واقعي د دُنيا نه د اِيمان سلامت وړلو مُعامَله ډيره زياته مشکله ده، کاش! چه مونږ ته د ايمان د حفاظت مضبوطه جذبه را نصيب شي.

کاش! کاش! چه په دُنیا کښې د آسان ژوند تیرولو د ارمان په ځائے، زمونږ په زړونو کښې د ایمان د سلامتئ سره د مرګ فکر پیدا شي.

حضرت امام محمد غزالي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہِ نه منقول دي چه د یو بُزرګ د ارشاد خلاصه ده چه: که په ایمان باندے مرګ زما د خاص کوټې په دروازه کښې رانصیب کیږي او شهادت مے د کور په غټه دروازه انتظار کوي نو شهادت اګرچه د اعلٰی درجے سعادت دے خو زه به د کوټې په دروازه کښې د ایمان مرګ قبول کړم ځکه چه څه معلومه ده چه د کور غټې دروازے ته رسیدو رسیدو کښې زما زړه بدل شي او زه د ایمان د سلامتئ سره راتلونکي مرګ د شرف نه محرومه پاتے شم![1]

## څوك چه د ایمان د بربادئ ویره نه لري

بهرحال مونږ له هر وخت د اللّٰه پاك نه د اِیمان د حفاظت سوال کول پکار دي. ډیره د حیرانتیا خبره ده چه څنګه د دُنیاوي مال د حفاظت نه غافِله کیدل د مالي نُقصان سبب جوړیدے شي دغه شان بلکه د دے نه هم زیات ایمان دے چه د ایمان د حفاظت نه بے فکره کیدل او د ایمان د بربادئ نه بے ویرے کیدل سراسر نُقصان دے. علمائے کرام فرمائي: څوك چه په (ژوند کښې) د ایمان د بربادیدو ویره نه لري، د ځنکدن په وخت کښې د هغه د ایمان د بربادیدو اندیښنه [یعني خطره] ده.[2]

---

[1] ... احیاء العلوم، کتاب الخوف والرجاء، بیان فضیلة الخوف...الخ، ۲۱۱/۴

[2] ... ملفوظات اعلی حضرت، ص۴۹۵

معلومه شوه چه د ایمان د حفاظت نه غافله کیدل سراسر د نقصان سبب دے لِهٰذا مونږ له هر وخت د الله پاك د پټ تدبیر نه ویریدل او د هغه د راضي کولو کوشش جاري ساتل پکار دي. راځئ چه! د الله پاك د پټ تدبیر په باره کښے یوه ژړوونکي واقعه واورو:

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن رَحمَۃُاللہِ تَعالٰی عَلَیہ فرمائي: زه د خانه کعبے په طواف کښې مشغُول ووم چه یو کس مے اولیدو، هغه د خانه کعبے په غِلاف پورے نښتے وو او صرف د یوے دُعا تِکرار ئے کولو: ''یا **الله** عَزَّوَجَلَّ ما د دُنیا نه مسلمان رخصت کړے.'' ما د هغه نه تپوس اوکړو چه: د دے نه علاوه نورے دُعاګانے ولے نه کوے؟ هغه اووئیل چه: زما دوه ورونړه وو، مشر ورور مے د څلویښتو کالو پورے په جُمات کښے بے تنخواه اذان کولو. چه کله د هغه د مرګ وخت راغے نو هغه قُرآنِ پاك اوغوښتو، مونږه هغه ته ورکړو چه د دے نه بَرَکتونه واخلي، خو قُرآنِ شریف ئے چه په لاس کښې واخستو نو اوئے وئیل چه: تاسو ټول ګواه شئ چه زه د قُرآن د ټولو اعتقاداتو [یعني عقیدو] او احکاماتو نه بیزاره یم او نصراني (یعني عِیسائي) مذهب اختیاروم.'' بیا هغه مړ شو. د هغه نه پس مے بل ورور د دیرشو کالو پورے په جُمات کښې فِیْ سَبِیْلِ الله اذان کولو. خو هغه هُم په آخري وخت کښې د نصراني کیدو اقرار اوکړو او مړ شو، لِهٰذا زه د خپلے خاتمے په باره کښې بیحده فکرمند یم او هر وخت د خاتِمۂ بِا لخَیر دُعا کووم. حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن اَحمد مُؤَذِّن رَحمَۃُاللہِ تَعالٰی عَلَیہ د هغه نه تپوس اوکړو چه ستا دواړو ورنړو به آخر کومه ګُناه کوله؟ هغه اووئیل: ''هغوئي به د غیرو ښځو شوق لرلو او اَمردانو (یعني بے ګِیرے هلکانو) ته به ئے (په شهوت سره) کتل.'' (اَلرَّوضُ الفَائِق ص۱۷، دار الکتب بیروت)

# د بدے خاتِمے څلور اسباب

په شَرحُ الصُّدُور کښے دي، بعضې عُلماءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم فرمائي چه: د بدے خاتِمے څلور اسباب دي. (١) په لـمانځه کښې سستي کول (٢) شراب څښل (٣) د مور او پلار نافرماني کول (٤) مسلمانانو ته تکليف ورکول. (شَرحُ الصُّدُور ص٢٧ دار الکتب العلمية بيروت)

اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ فرمائي: بد صحبت د ايمان د پاره ډېر خطرناك دے خو افسوس! مونږه د بدو دوستانو د صحبت نه ځان نه خلاصوو، د ګپ شَپ مجلسونو نه ځان نه ساتو، د ټوقو ټقالو، خنداګانو او غير سنجيده عادتونو نه ځان نه خلاصوو. آه! [د بعضے خلقو په ژوند کښے] د بد صحبت سپيروالے داسے غالِب شوے دے چه د يو ساعت د پاره ئے په تنهائي کښے ذِکْرُ الله کولو ته زړه نه کيږي، د ايمان حفاظت اګرچه غواړي خو بيا هم د دے د پاره بد دوستان نه پريږدي بلکه د هيڅ قِسمه قربانۍ کولو هِمَّت نه لري. ياد ساتئ! بد دوست د ايمان د پاره د نقصان سبب جوړيدے شي. زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: انسان د خپل دوست په دين باندے وي، هغه له دا کتل پکار دي چه د چا سره دوستي کوي.[1]

صحبت بهرحال اثر کوي، د ښو خلقو صحبت په دُنيا او آخرت کښے د خوش بختۍ سبب جوړيږي او دبدو خلقو دوستي په دُنيا او آخرت کښے د بدبختۍ سبب جوړيدے شي څنګه چه

[1] ... مسند امام احمد، مسند ابی ہریرة، ۱۶۸/۳، حدیث: ۸۰۳۴

حضرت ابوذر رَضِیَ اللہُ عَنْہ فرمائي چه ما عرض اوکړو: یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! یو کس د یو قوم سره محبت کوي خو د هغوئي په شان اعمال نه شي کولے؟ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے ابوذر! ته به د هغوئي سره ئے د چا سره چه ته محبت کوے. ما عرض اوکړو: زه د الله پاك او د هغه د رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کووم. ارشاد ئے اوفرمائیلو: اے ابوذر! ته چه د چا سره محبت کوے هُم د هغه سره به ئے.[1]

حکیمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دے حدیثِ پاك لاندے فرمائي: یعني د چا سره دوستانه کولو نه مخکښے هغه ښه اوګوره چه د الله او رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُطِیع (یعني فرمان بردار) دے او که نه.[2]

معلومه شوه چه مونږ له د ښو خلقو سره محبت او د هغوئي صحبت اختیارول پکار دي، د ښو خلقو صُحبت په دُنیا کښے هم فائده مند دے او په آخرت کښے هم د کامیابۍ سبب دے ځکه چه د بدو خلقو او بدمذهبو صُحبت د ایمان د خاوند د پاره زَهرِ قاتل دے.

## د ایمان او کُفر مُتَعَلِّق ضروري معلومات

یاد ساتئ چه د ایمان او کُفر مُتَعَلِّق ضروري معلومات حاصلول ضروري دي. د دے معلوماتو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنه چاپ کړي دا درے کتابونه ﴿۱﴾ کتابُ الْعَقَائد

---

[1] ... ابو داود، کتاب الادب، باب اخبار الرجل، ۴/۴۲۹، حدیث:۵۱۲۶

[2] ... مرآۃ المناجیح، ۶/۵۹۹

﴿۲﴾ بُنیادی عقائد اور معمولاتِ اَہلِسُنَّت ﴿۳﴾ د بهار شریعت د جِلد نمبر 1 اَوَّله حِصَّه.

اے عاشقانِ رَسُول! مَدَني مُذاکَرو کښے د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت حاجي عُبَید رضا عطاري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه صُحبت یقیناً ډیر لویۀ نعمت او د ایمان د سلامتیۀ سبب دے. کیدے شي چه د چا په ذِهن کښے دا خبره راشي چه زه خو ډیر لرے اوسیږم، زه به څنګه د هغوئي د صُحبت برکتونه حاصل کړم؟ نو فکر مه کوئ! مَدَني چینل په ټوله دُنیا کښے د نیکیۀ دعوت عامولو او د خلقو د ایمان د حفاظت ذریعه جوړیږي، بلکه د مَدَني چینل په بَرَکت خو ډیر غیر مُسلمه هم مسلمانان شوي دي. نو تاسو د مدني چینل په ذریعه د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د صُحبت برکتونه حاصلولے شئ.

د دعوت اسلامي مجلِس آئي ټي (I.T) د عاشِقانِ رَسُول د پاره یو ډیر شاندار کار کړے دے، او هغه څه دي، راځئ چه واورو!!!

## د جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت د ایپ تعارُف

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه دعوتِ اسلامي ټوله دُنیا کښے د دِین پیغام عام کولو کښے مصروفِ عمل دے. په دے جدید دَور کښے د تبلیغِ دِین د پاره جدید ذرائع هُم استعمالیږي. په دے سلسله کښے د جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت مولانا عُبَید رضا عَطّاري مَدَني دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په نوم باندے یو ایپلیکیشن جوړ کړے شوے دے، چه د هغے نوم دے "الحاج عُبَید رضا عَطّاري (Al Haaj Ubaid Raza Attari) په دے کښے د جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت بیانات، شارټ کلِپس، مختلف مصروفیات، مَدَني

چينل ريډيو، د کلِپ وغيره ډاؤن لوډِنګ او د سَرچ سهولت موجود دے. زر تر زره ضرور په خپل موبائل کښے دا اَيپ انسټال کړئ او د دے نه اِستِفاده اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو مدني کارونو کښے يو مدني کار "مدني قافِله"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ګناهونو سپيروالے هم بعضے وخت د بدے خاتمے سبب ګرځي، ځکه مونږ له هم د ګناهونو نه بچ کيدل او د الله پاك د نيکو بندګانو صحبت اختيارول پکار دي چه د هغوئي د ښه صحبت په برکت د ګناهونو نه نفرت او نيکو سره محبت او د ايمان د حفاظت فکر رانصيب شي. د دے د پاره اَلْحَمْدُلِلّٰه د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره مضبوط تَعَلُّق ساتل هُم ډير فائده مند دي، تاسو هم د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط کړئ او د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښے چه څومره کيدے شي حصه واخلئ. د ذِيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښے يو مدني کار "**مدني قافله**" هم ده. د دے تفصيلي معلومات حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه رساله "**مدني قافِله**"اولولئ، ټول اسلامي ورونړه او خاص طور ذِمه داران دِ د دے رسالے مطالعه ضرور اوکړي.

دا رساله د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** د بستے نه طلب کولو سره سره د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ نه هم لوستلے او ډاؤن لوډ کولے شئ.

مدني قافله کښے د سفر په بَرَکت د ايمان د حفاظت کولو، په نيکو کښے د ژوند

تيرولو او باطني بيمارو نه د بچ كيدلو ذِهن جوړيږي او ورسره ورسره د بدني بيمارو نه هم د الله پاك په رحمت شِفا حاصليږي. راځئ چه په دے باره كښے يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## 19 كاله زوړ مرض كښے ئې كمے ځنګه راغے؟

د كراچۍ د علاقے ناظم آباد اوسيدونكے يو سپين ږيرے اسلامي ورور د مدني قافلے نه حاصل شوي بركتونو څه داسے بيانوي چه زه د 19 كالو نه د دَمے [يعني ساه لنډي] په مرض كښے اخته ووم. بعضے وخت به راته د مرض د تكليف په وجه ډير تكليف وو. كله به مے نيمه شپه طبيعت خراب شو نو نيمه شپه به ډاكټر له تلم. الغرض زه ډير پريشانه ووم. علاج كولو سره به مے وقتي طور آرام راغے خو مستقل سكون را ته نه كيدو. هر وخت به په دے فِكر او پريشانۍ كښے ووم چه د دے مرض نه به ځنګه جوړ شم؟ زما خوش قِسمتي وه چه يو ځل راته د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول سره د درے ورځو **مدني قافله** كښے د سفر سعادت نصيب شو. د **مدني قافِلے** په بركت زما شپے او ورځے د الله پاك په عبادت كښے تيريدلے او د علمِ دين حاصلولو موقع هم را ته ملاو شوه. هُم دغسے ما ته نور بركات هم نصيب شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** په هغه درے ورځو كښے ما ته نه د ستنے وهلو حاجت پيښ شو او نه ډاكټر له د تللو ضرورت پيښ شو بلكه په **مدني قافله** كښے راته داسے اطمينان او سكون مِلاو شو چه مخكښے راته كله هم نه وو مِلاو شوے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د مدني قافِلے په بركت زما د 19 كالو په زوړ مرض كښے ښكاره كمے راغے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ایمان بربادیدو په فِکر کښے پورا شپه ژړا

زمونږه بزرګانِ دین به د ایمان د حفاظت د پاره څومره فکرمند اوسیدل راځئ چه وارو:

چنانچه حضرت سَیِّدُنا یوسُف بِن اَسباط رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه یو ځل د حضرت سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ خوا ته حاضر شوم. هغوئی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ټوله شپه ژړل. ما ترینه تپوس اوکړو: آیا تاسو د ګناهونو د ویرے نه ژاړئ؟ نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یو ډکے را واخستو او اوئے فرمائیل: ګناه خو د الله پاك په دربار کښے د دے ډکي نه هم کم حیثیت لري. ما ته خو د دے خبرے ویره ده چه چرے د ایمان دولت را نه وانغستے شي.[1]

## ما ته بس د خاتمه بالخیر فکر دے

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَیِّدُنا امام محمد غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د هُم دوئي په باره کښے نقل کوي چه: حضرت سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وفات په وخت کښے په ژړا شو. خلقو دلاسه ورکړه او عرض ئے ورته اوکړو چه: یا سَیِّدي! مه ویریږئ، د الله پاك په رحمت نظر ساتئ. هغوئي اوفرمائیل: د بدے خاتمے د ویرے ژاړم، که په ایمان د خاتمے ضمانت راکړے شي نو بیا زه د دے خبرے پرواه نه لرم اګرچه د غرونو همره

---

[1] ... منهاج العابدین، الباب الخامس: العقبة الخامسة، الاصل الثالث فی ذکر ما وعد...الخ، ص١٦٩

ګناهونو سره د الله پاك سره ملاقات اوكړم.[1]

## د ايمان د حفاظت دُعا

حضرت سَيِّدُنااِبنِ ابوجميله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان كوي چه يو كس حضرت سَيِّدُنا رجاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د مخه ښه كولو [يعني رخصتولو] وخت كښے اووئيل: اے ابو مِقدام! الله پاك دِ ستاسو حفاظت اوفرمائي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اے وروره! د بدن د حفاظت نه، بلكه د ايمان د حفاظت دُعا را ته اوكړه.[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه اولياءُ الله ته د دے خبرے ويره وه چه چرے زمونږ نه ايمان وانغستے شي، ☆ اولياءُ الله د كثرتِ عبادت باوُجود د الله پاك ناراضئ والا كارونو او خبرو نه بچ كيدل، ☆ اولياءُ الله به د نورو نه هم په ايمان د خاتمے دُعا غوښتله، ☆ اولياءُ الله به د حفاظتِ ايمان د پاره ژړل، ☆ اولياءُ الله به د ايمان د حفاظت د پاره غير ضروري تګ را تګ نه ځان بچ كولو. لِهٰذا مونږ له پكار دي چه د الله والؤ په نقشِ قدم روان شو، د خپلے ژبے حفاظت اوكړو، فضول او غير ضروري تګ را تګ نه ځان ساتو، د نيكو كولو شوق په خپل زړه كښے پيدا كړو، په خپلو ګناهونو باندے ژړا اوكړو او د ګناهونو نه رښتيني توبه اوكړو، د الله پاك نه په

1 ... احياء العلوم، كتاب الخوف والرجاء، بيان فضيلة الخوف...الخ، ٢١١/٤
2 ... حلية الاولياء، رجاء بن حيوة، ١٩٦/٥، رقم: ٦٨٠٩

دُنیا او آخرت کښے د عافیت او خلاصي دُعا اوکړو او د دے د پاره عملي کوشش هم جاري اوساتو.

## د ایمان د حفاظت یو نُسخه

د ایمان د حفاظت د پاره د یو جامع شرائط پیر مُرید جوړ شئ. د سرکارِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مُریدانو به څه وائے، چنانچه **شَیْخ ابُوسَعُود عبدُالله** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه: **شَیْخ عبدُ الْقَادِر جِیْلانی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپلو مُریدانو د پاره تر قِیامته پورے د دے خبرے ضمانت ورکړے دے چه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو مُرید به هُم د توبه کولو نه بغیر نه مړ کیږي.
(بهجة الاسرار، ذکر فضل اصحابه وبشراهم، ص۱۹۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دے د فساد ډك دَور کښے زمونږ د پاره د امیرِ اَهلِسُنَّت باني دعوتِ اسلامي حضرت علّامه، مَولانا، **محمّد** اِلیاس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ذات ډیر لوئ نعمت دے، خوك چه د هغوئي نه بَیعَت کوي [یعني د هغوئي مُرید جوړیږي] هغوئي هغه د غوثُ الاعظم پرانِ پیر **شَیْخ عبدُ الْقَادِر جِیْلانی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُرید جوړوي.

لِـهذا د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ذریعه د غوثُ الاعظم پیرانِ پیر **شَیْخ عبدُ الْقَادِر جِیْلانی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُرید جوړیدلو یعني قادري سلسله کښے د بَیعَت کولو د پاره **مختلفے** طریقے دي. چا ته چه کومه طریقه آسانه وي په هغے دِ عمل اوکړي، مَثَلًا **بِالـمُشافه** (یعني **مخامخ**) مرید جوړیدے شئ، بله طریقه دا ده چه کله امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په هفته واره **مَدَني مُذاکره** کښے د مَدَني چینل په ذریعه براهِ راست مُرید جوړوي هغه

وخت مُرید جوړیدلے شئ، دریمه طریقه دا چه د **تعوِیذاتِ عَطّارِیه** په بستو کښے د امیرِ اَهلِسُنَّت د مُرید جوړیدلو د پاره خپل نوم او پته لیکلي ورکولے شئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دے نه علاوه یو موبائل ایپلیکیشن "**آن لائن روحانی علاج اور استخاره**" (Online Rohani ilaj and istikhara). د دے موبائل ایپلیکیشن په ذریعه د امیرِ اَهلِسُنَّت مُرید هم جوړیدے شئ او ورسره ورسره تعویذاتِ عطّارِیه هُم حاصلولے شئ، استخاره هم کولے شئ او د مختلفو بیمارو کاټ هُم کولے شئ. دا موبائل ایپلیکیشن د پلے سټور نه ډاؤن لوډ کولے شئ.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!** 	**صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محُترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سنّت کا مدینہ بنے آقا 	جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا 	جنّت کښے مے خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

[1]... ابنِ عساکر ج۹ ص ۳٤۳

## د لباس اغوستلو سنتونه او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ رسالے **"163 مدني ګلونه"** نه لباس اغوستلو سنتونه او آداب واورو: اَوَّل **دوه فرامینِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ☆ د پیریانو د سترګو او د خلقو د سِتر په مینځ کښے پرده دا ده چه کله څوک جامے ویستل غواړي نو [مخکښے دِ] **بِسْمِ الله** اولولي.[1] حکیم الاُمَّت حضرت مُفتی احمد یارخان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: څنګه چه دیوالونه او پَردے د خلقو د نظر نه رُکاوټ جوړیږي دغسے به دا د الله عَزَّوَجَلَّ ذِکر د پیریانو د سترګو نه پرده جوړ شي او شیطان به هغه (یعني شرمګاه) نه شي لیدلے.[2] ☆ څوک چه جامے واغوندي او دا اولولي: **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ** (ترجمه: **ټول تعریفونه الله** عَزَّوَجَلَّ **لره دي چا چه ما ته دا جامے واغوستلے او زما د طاقت او قوت نه بغیر ئې ما ته عطا کړے**) نو د هغه مخکښے وروسته ګُناهونه به معاف شي.[3]☆ څوک چه د قدرت [یعني د وَس] باوجود ښائسته او ښکلې جامے اغوستل د تواضُع (یعني د عاجزئ) په طور پریږدي، الله تعالٰی به هغه ته د کرامت حُلّه ور واغوندي.[4]☆ لباس د حلالے ګټے پکار وي. او کوم

---

1. ... المُعجَمُ الاَوسط ج2 ص59 حدیث2504
2. ... مِراٰة ج1 ص268
3. ... شُعَبُ الایمان ج 5 ص181 حدیث 6285
4. ... ابوداؤد ج4 ص326 حدیث4778

لباس چه د حرامے ګټے نه حاصل شوے وي، په هغے کښے فرض او نفل يو لمُونځ هم نه قبليږي.[1] ☆ د اغوستلو په وخت کښے د ښي طرف نه شروع اوکړئ (چه دا سنّت دي) مثلاًچه کله کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښے په ښي لِستونړي کښے ښے لاس داخل کړئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستونړي کښے.[2] ☆ هم دغسے پرتوګ اغوستلو کښے مخکښے په ښئ پينڅه کښے ښئ ښپه داخله کړئ او چه کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دے برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ☆ سُنَّت دا دي چه د نارينه لَنګ يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټئ [يعني پړکو] نه پاس وي.[3] ☆ نارينه دِ د نارينؤ او ښځے دِ د ښځو جامے اغوندي، په وړو ماشومانو کښے هم د دے خبرے لحاظ ساتئ.

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د۳۱۲ صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“ او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ”**101 مدنی پھول**“ او ”**163 مدني ګلونه**“ هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... کشف الالتباس فی احکام اللباس ص41

[2]... کشف الالتباس فی احکام اللباس ص43

[3]... مِراٰۃ ج6ص94

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښے د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښے د داخليدو وخت كښے هُم، تر دے چه سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښے د خپل رَحمت نه ډكو لاسونو باندے كوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصاً

اودریدو نه مخکښے به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لا که دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ

---

1... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابۂ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم حیران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورے نیکئ لیکي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه

1... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵
2... الترغیب والترهیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰
3... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الۡحَلِيۡمُ الۡکَرِيۡمُ، سُبۡحٰنَ اللهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه وارو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵